وزارت صحت عامه
دعامه روغتیا وزارت
**Ministry of Public Health**

د اداری فساد پر وړاندی د څارنې او ارزونې
خپلواکه او ګډه کمیټه
کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی
مبارزه با فساد اداری
**Independent Joint Anti-Corruption**
**Monitoring & Evaluation Committee**

---

## دڅارنې او ارزونې او عامې روغتیا وزارت ګډه رسنیزه اعلامیه
## په عامې روغتیا وزارت کې د فساد پر وړاندې د زیانمننو د ارزونې په تړاو ځانګړی رپوټ خپروي

**کابل-افغانستان، ۱۳۹۵ کال د غبرګولي ۱۸ نیټه:** د څارنې او ارزونې کمیټه نن د عامې روغتیا په وزارت کې د فساد د زیانمننو د ارزونې په تړاو ځانګړی چمتو کړی رپوټ، چې د عامې روغتیا د وزیر ډاکټر فیروزالدین " فیروز" په رسمي غوښتنه ترسره شوی، خپروي. نوموړی رپوټ په یاد وزارت کې د فساد پر وړاندې د خطر د شتون کچه ارزوي او پدې تړاو بنسټیزې سپارښتنې وړاندې کوي تر څو نوموړې سپارښتنې د عامې روغتیا وزارت کې د خپلواکې څارنې کچه، او همداراز په درېو مهمو برخو سیستماتیکو مسئلو، د مشرتابه موضوع ګانو او د انسجام مسئلو کې د ښه شویو لومړیتوبونو کچه لوړه کړي.

نوموړی رپوټ د ۱۳۹۴ کال له مرغومې میاشتې څخه د ۱۳۹۵ کال تر غبرګولي میاشتې پورې، د یوه افغان او نړیوال ګډ پلاوي په زیار چې د اداري فساد او عامې روغتیا په برخو کې تخصص لري، چمتو شویدی. د مالوماتو په راټولولو کې پلاوي د نیغ په نیغه کتنو سربیره د ۲۶۰ تنو سره مخامخ مرکې ترسره کړیدي، پدې ۲۶۰ تنو کې د روغتیایي سکتور د مختلفو کچو کارکونکې لکه د عامې روغتیا وزارت پخواني چارواکي، د وزارت د ټیټې کچې کارکونکي، د روغتیایي پروګرامونو پلي کوونکي او مدني فعالان، د ټولنې مشران او ناروغان ګډون لري. نوموړې ارزونه د مرکز په ګډون په ۱۲ ولایتونو کې ترسره شویده.

د څارنې او ارزونې کمیټه د عامې روغتیا د وزیر فعاله روش ستایي چې زیانمننې په ګوته کوي او هغه څرګنده ژمنه چې د خلکو په وړاندې یې کړې چې د دغه رپوټ سپارښتنې به کاروي تر څو په دغه وزارت کې د فساد پر ضد مبارزه غښتلې کړي. دغه رپوټ کې د روزنې د اړتیاوو، روغتیایي معلوماتو د سمبالښت د سیستمونو، د اعتبار وړ درملو وارډولو، او د ښو پلټنو او معاینو اړوند 115 ځانګړې سپارښتنې شاملې دي، داسې یوې هڅې ته وده ور کړل شوې تر څو واقعي اصلاحات را منځته کړي او په فساد کې د پام وړ کمښت راولي.

د نوموړې ارزونې موندنې په یاد وزارت کې د اداری فساد په وړاندې د خطرونو روښانه انځور وړاندې کوي، او د عامې روغتیا په وزارت کې د اعتماد د فضا د بیا رامنځته کولو په موخه د یو لړ اقداماتو د ترسره کولو غوښتنه کوي. د نوموړو سپارښتنو پلي کول د هیوادوالو د روغتیایي وضعې د رغولو او تلپاتې بدلون د ښه والي په برخه کې له بدلونونو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه اړین ښکاري.

عامې روغتیا وزارت د څارنې او ارزونې کمیټې دغه ځانګړی راپور منې. همدا راز دغه وزارت منې چې په زرګونه ژمن او کوښښ کوونکي کارکوونکي شته چې هره ورځ په سختو شرایطو کې روغتیایي خدمتونه برابروي. د دغه وزارت مشرتابه چې د دغې هڅې مخکښه ده، په پام کې لري چې د اداري فساد پر ضد ستراتیژي د څارنې او ارزونې کمیټې د ځانګړي رپوټ او نورو اړوندو موجودو مالوماتو پر بنسټ غښتلې کړي. د دغې ستراتیژۍ تطبیق به د د ملي وحدت حکومت د مشرتابه په سیاسي اراده او زموږ د نړیوالو همکارانو دوامداره ملاتړ تضمین کړي.

**د لا ډیرو مالوماتو د تر لاسه کولو لپاره د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې سره د لاندې لارو پر مټ په اړیکه کې شئ:**

- ګرځنده تیلیفون: *0797515871*
- د بریښنالیک پته:**contact@mec.af**

**او همدارنګه د اداري فساد په اړه د نورو مالوماتو د تر لاسه کولو په موخه زمونږ فیسبوک پاڼې، ویبپاڼې او ټویټر ادرسونو ته سر ورښکاره کړي:**

- ***www.mec.af***
- **mec.afghanistan**
- **@mec_afghanistan.**